پوښتنې:

۱- عارضي مد کوم دی؟

۲- عارضي مد ته ولې عارضي مد وایي؟

۳- کلمې مثقل مد کوم مد ته ویل کیږي.

۴- ولې ورته مد مثقل وایي؟

۵- حرفي مثقل مد څرنګه مد دی؟

۶- دغه وجهې نه په مد حرفي مثقل مسمّی شوی دی؟

۷- کلمی مخفف مد:

هغه نه وایي چه د مد توری او سبب یې (سکون) دواړه په یوه کلمه کښې او سکون بې له شده څخه وي لکه په (اٰلْئٰن) کې الف د اولي همزې وروسته د مد توری او د لام سکون بې له شده دی له همدی وجهی نه ورته کلمی مخفف مد وایي.

۸- حرفی مخفف مد:

هغه مد دی چه د مد توری او سبب یې (سکون) بې له شده په یوه توری کښې جمع شوي وي لکه په (ن) کښې

چه د مد توری واو دی په تلفظ کې شته
اوسبب یې د (ن) سکون دی دواړه په
یو حرف اوهم یې سکون یې له شده دی
نوحکه ورته حرفي مخفف مد وایي چې
تلفظ کښې (نون) لوستل کیږي .

پوښتنې :

۱- کلمې مخفف مد کوم دی ؟

۲- ولې ورته کلمې مخفف مد وایي ؟

۳- حرفي مخفف مد کوم دی ؟

۴- دغه وجهې نه ورته حرفي مخفف مد
وایي ؟

دلين مد

دلين د مد توري دوه دي (واو ، ياء)
چې په خپله ساکن اود مخکني توري حرکت
ور وي نو دلين مد اداکيږي .

دلين د مد سبب هم همزه اوسکون
دی . لين نرمه ته وائي او دا مد هم
په نرمه سره اداکيږي . دلين د مد
مثال چه سبب ئي همزه وی لکه
(سُوْءَ) واو ساکن او د مخکني توري
حرکت زور دی .

دلين د مد مثال چې سبب ئي سکون
وي لکه (عَيْنٌ) چه د مقطعاتو په

په حرفو کښې را غلی (حٰمٓ ۝ عٓسٓقٓ ۝)
او په (مِنۡ خَوۡفٍ) د وقف په حال کښې ۔

پوښتنې ۔

۱۔ دلين مد کوم مد ته ويل کيږی؟

۲۔ دلين د مد توری څو اوکوم دی؟

۳۔ دلين د مد سبب څه شی دی؟

دمد حکمونه

په لنډ مد به آوان د یو الف یعنی دوه حرکتو په اندازه کش کول کیږي

اوپه اوږد مد به د درې الفو یعني د شپږو حرکتو په اندازه آوان اوږد کړي شي د مد اداء کول په منفصل مد او په هغه چه سبب ئې عارضي سکون وي جایز دی ، او دنور و تولو مدونو اداکول واجبی اولازمي دي .

پوښتنې :

۱- دلنډ مد دآوان اندازه څومره ده؟

۲- داوږد مد دآوان اندازه څومره ده؟

۳- دکوم مد اداکول واجبي اودکوم مد اداکول جایز دے ؟

تنوین او ساکن نون

ساکن نون هغه نون ته وایي چې حرکت (زور، زیر، پیش) ونلري په مخ او یا آخر د اسم، فعل او حرف کې واقع کیږي لکه مَنْ، أَنْذِرْ او داسې نور.

تنوین هغه نون ته وایي چه یوازې د اسم په آخر کښې په تلفظ کښې راځي نه په لیک کښې او په دغو نښو پیژندل کیږي ً ٌ ٍ دوه زور، دوه زیر، دوه پیش لکه عَلِيْمًا عَلِيْمٌ، عَلِيْمٍ کښې.

د تنوین او ساکن نون حکمونه

تنوین او ساکن نون څلور حکمونه لري:

۱- ادغام ۲- اقلاب ۳- اظهار ۴- اخفاء

ادغام په لغت کښې داخلولو ته وایي او په اصطلاح د علم قرائت کښې داخلول دیو توري دي په بل توري کښې په داسې شان سره چه دواړو تورو نه یوشد لرونکی توري جوړشي اول توري مدغم او دوهم توري مدغم فیه بلل کیږي لکه په (مَنْ یَّوْم) نون ساکن وروسته تري یاء نون په یاء بدل او دواړه ی، دیوشد لرونکې ی، په شکل تلفظ کیږي.

د ادغام ډولونه

د ادغام په درې ډوله دی:

۱- **ادغام متماثلین:** کله چې یو توری د تکرار په دول یوځای راشی اول ساکن او دوهم حرکت ولري اول په دوهم کښی ور داخل کړي شي او دواړو نه یو شد لرونکی توری جوړشي لکه په د مَنْ نَشَاءُ، کې اول نون ساکن او دوهم نون زور لري اول نون چې نون کښی ور داخل شي دا ادغام متماثلین وایي.

۲- **ادغام متجانسین:** دوه داسې توري چه له یومخرج نه اداء کیږي یو د بل پسی په

داسې شان موجود شي چه اول ساکن او
دوهم حرکت لري اول توری په دوهم توری
کښې داخل شي لکه په اِذْ ظَلَمَ چه ذال
او ظاءله یوه مخرج نه اداء کیږي ذال
ساکن او ظاء زور لري د ادغام په حالت
کې اِظَّلَمَ لوستل کیږي دې قسم ادغام
ته متجانس ویل کیږي.

۳- ادغام متقاربین: دوه داسې توری
چه مخرجونه یې سره نږدې وي یوه
بل پسې په داسې شان موجود شي
چې اول ساکن او دوهم حرکت ولري
لکه لَبِثْتُمْ کښې چې د ث ، ت

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مد

مد په لغت کښې کش کولو ته وايي
او د علم قرائت په اصطلاح کښې د
مد په توري له يو الف نه تر درې
الفو پورې د آواز کش کولو څخه
عبارت دی .

د مد توري

د مد توري (واو ، الف ، يا)
درې دي .

مخرجونه سره نږدې دي دواړه يوځای
جمع شوي چې (ث، ساکنه او (ت، پيښ لري
نو (ث، په (ت، کښې ور داخل او لښتم به
ولوستل شي او دې ادغام ته متقاربين وايي.

هرکله چې د تنوين اويا نون ساکن نه
وروسته درير ملون، (ی، ر، م، ل، و، ن، د
تورونه يو توری راشي ادغام کيږي
په څلورو تورو (يمنو، (ی، م، ن، و،
تورو کښې د غنې سره ادغام او په
دوه تورو (ل، ر، کښې بې
له غنې څخه ادغام ادا کيږي لکه
په مَنْ يَّشَاءُ کښې له غنې سره

اوپه مِنْ رَّبهم کښې بې له غنې څخه ادغام اداکیږي خو داهم باید واضح شي چه په څلورو لفظو (دنیا ، قنوان بلیان او صنوان کښې ادغام نشته بلکه اظهار دی .

غُنه : له هغه آواز څخه عبارت دی چه له خیشوم څخه خارجیږی د غنې مخرج (دوتلوځای) خیشوم دی .

خیشوم د پزې آخري حصی ته وایي په اخفاء ، ادغام او اقلاب کښې غنه اداء کیږي لاکن د (ل ، ر) په تورو کښې نه اداکیږي د غنې اندازه دیوالف سره برابره ده.

پوښتنې:

۱- ساکن نون څرنګه نون ته وايي؟

۲- تنوين کوم نون دی؟

۳- تنوين په کومه کلمه کې راځي اوچيرته موجود يږي؟

۴- د تنوين اونون ساکن څو حکمه دي؟

۵- ادغام څه ته وايي؟

۶- ادغام متماثلين کوم ادغام ته ويل کيږي؟

۷- ادغام متجانسين څه رنګه ادغام دی؟

۸- ادغام متقاربين کوم ادغام ته وايي؟

۹- غنه څه شی ده اوله کومه حايه اداکيږي؟

۱۰- د غنی اندازه څومره ده؟

اقلاب

اقلاب بدلولو ته وايي . له نون ساکن

اويا تنوين څخه وروسته چې د (ب) توري

راشي اقلاب کيږي ، يعنی ساکن نون

اويا تنوين په ميم بدليږي لکه په مِنْ م

بَعْدِهِم مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ اونورو ځايونو کښې

نون په ميم بدل شوی لوستل کيږي .

اظهار

اظهار په لغت کښې سنګار کولو ته

وايي اوپه اصطلاح کښې د دوو توريو

جلاکول دي په داسې شان سره چه

هر توری بيل اوسنګار ولوستل شي .

کله چې د نون ساکن او یا تنوین څخه
وروسته د حلق له توروتنه کوم یو
توری راشي نو اظهار کاوه شي لکه
لِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ط اجرا عَظِيمًا ، عَلِيمٌ حَكِيمٌ
لَطِيفًا خَبِيرًا ط اونورو ځایو کښی .

تنوین اوساکن نون له وروستنی توری
نه سبکاره اوجدا لوستل کیږي .

اخفاء

اخفاء په لغت کښې پټولو ته وایي او د علم
قرائت په اصطلاح کښې د اظهار او ادغام
ترمینځ ساکن نون اوتنوین باندې تلفظ
کولو ته اخفاء وایي ..

د اظهار ، ادغام او اقلاب د توريونه پرته د هجاء د باقي پنځلسو توريو وچه کوم يو توري د تنوين او يا له ساکن نون نه وروسته راشي اخفاء اداکيږي .

د اخفا توري دادي :

ت ، ث ، ج ، د ، ذ ، ز ، س ، ش ، ص ، ض ، ط ، ظ ، ف ، ق ، ک

د اخفا مثالونه يَنْصُرْكُمْ ، اَنْصَارِ مَنْ ذَالَّذِی ، مِنْ جُوْعٍ او داسی نور دي .

پوښتنې:

۱- اقلاب څه شي ته وايي ؟

۲- د اقلاب توري کوم دي ؟

۳- اظهار څه شی ته ويل کيږي ؟

۴- د اظهار توري څو او کوم دي ؟

۵- اخفا څه شي ته وايي ؟

۶- د اخفا توري څو او کوم دي ؟

د ميم ساکن حکمونه

ساکن ميم درې حکمونه لري :

۱- اخفاء ۲- ادغام ۳- اظهار

اخفاء: هرکله چه د ساکن ميم نه وروسته د (ب) توري راشي اخفاء به اداء کيږي

لکه په تَعرِفُهُم بِسِيمَاهُم کښې چې د ساکن
میم نه وروسته (ب) راغلی اوهمدارنګه
په نورو حُایو کښې

ادغام :

کله چې د ساکن میم نه وروسته
بل متحرک راشې اول میم به په دوهم میم
کښې مدغم شی دا قسم ادغام د متماثلینو
دا غام له جملی څخه دی لکه په اِنَّکُم
مَّالِکُوُن کښې چې اول میم په دوهم میم
کښې مدغم شویدی .

اظهار :

هرکله چې د ساکن میم څخه وروسته (ب)

اوم، نه پرته د هجاء کوم بل توری راشي اظهار به کيږي يعنی ميم به د بل توري څخه سبکاره اوجدالوستل کيږي لکه په :

(اَمْ لَهُمْ سُلْطَانٌ . لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ)

او همداسي په نورو ځايونو کي .

نوټ : د ساکن ميم په اخفا او ادغام کې غُنه شرط ده .

پوښتنې

۱- ساکن ميم څو حکمونه لري ؟

۲- په ساکن ميم کله اخفاء کيږي ؟

۳- ساکن ميم په کوم حالت کې ادغاميږي ؟

۴- د ساکن ميم اظهار کله وي ؟

دا توری په یوه کلمه داسی جمع شوي
دي (وای) دوی ته هغه وخت د مد توري
ویل کیږي چه په خپله ساکن یعني حرکت
ونه لري اومخکنی توری یې له خپله جنسه
څخه وي لکه واو ساکن د مخکنی توري
حرکت پیښ لکه نُوْحِیْهَا
الف ساکن د مخکنی توری حرکت زور لکه جَاءَ.
یاء ساکن د مخکنی توری حرکت زیر لکه سَمِیْع
پوښتنی :
۱- د مد لغوي او اصطلاحي معنیٰ څه ده ؟
۲- د مد توري څو او کوم دي ؟
۳- واو، الف، یاء په کوم حالت کښې د مد توري
ګڼل کیږي ؟

د مد قسمونه

مد په دوه ډوله دی:

۱- لنډ مد (مد قصیر)،

۲- اوږد مد (مد طویل)،

۱- لنډ مد: هغه مد ته ویل کیږي چې د مد له توري څخه وروسته د مد سبب (سکون یا همزه) موجود نه وي. په داسې حالت کښې به د یو الف په اندازه د مد په توري آواز کش کړی شي لکه په قَالَ، بَصِيْرٌ او داسې نورو ځایو کښې.

۲- اوږد مد (طویل مد)،

هغه مد ته وایي چه د مد توری څخه وروسته د مد سبب (سکون) اویا همزه راغلی وی لکه جآء

او داسی نورو څایونو کښی په اوږد مد په د دری الفو په اندازه آواز کش کول کیږی .

په قال کښی الف د مد توری وروسته تړی نه همزه شته اونه سکون نو لنډ مد یه پری اداشي .

۱- په جآء کښی د الف څخه وروسته چې د مد توری دی همزه راغلی ده نو اوږد مد پری اداکیږي .

پوښتنې:

۱- مد په څو دوله دی؟

۲- لنډ مد کوم مد ته وایي؟

۳- اوږد مد کوم مد ته وایي؟

داوږد مد اقسام:

۱- متصل مد: هغه مد ته وایي چې د مد توري اوسیبلي دواړه په یوه کلمه کښې راشي لکه په سُوَرٌ، بَصَائِرُ، جِيْئَ اونورو ځایونو کښې.

منفصل مد ۱

هغه مد ته ویل کیږي چه د مد توري په یو کلمه او سبب یې په بله کلمه کښې راغلي وي لکه په قَالُوٓا اٰمَنَّا فِيْٓ اٰذَانِهِمْ مَآ اُنْزِلَ اوداسې نور .

د متصل مد اداکول د قاریانو په اصطلاح واجب او د منفصل مد اداکول جایز دي .

۳- لازمي مد : هغه مد ته وایي چه د مد سبب (سکون) لازمي وي لکه په قٓ الحآقه ، ولا الضّآلّين اوداسې نور .

پوښتنې:

۱ـ متصل مد کوم مد ته وايي ؟

۲ـ منفصل مد کوم ته وايي؟

۳ـ لازمي مد کوم ته وايي؟

۴ـ عارضي مد:

هغه مد ته وايي چه سبب يې عارضي سکون وي يعني په خپله توري په اصل کښې متحرک وي خو د وقف له کبله پرې سکون راغلی وي لکه په نَسْتَعِيْنُ کښې ياء ساکنه مخکې ترې زير او نون متحرک دی پيښ لرې د وقف له وجهې

نه عارضي سکون پرې راغلی دی نو مد هم عارضي دی همداسې په کَافِرُوْن ، يُوْقِنُوْن اونورو ځايو کښې .

۵ـ کلمی مثقل مد :

هغه مد ته وايي چه د مد توری او سبب يې (سکون) دواړه په يوه کلمه کښې خو سکون په يوشد لرونکی توری وي لکه په (دآبّة) اونورو ځايو کښې .

۶ - حرفي مثقل مد:

هغه مد ته وايي چه د مد توري او سبب يې (سکون) دواړه په يوه توري کښې راغلي وي لکه په اَلٓمّٓ چه لام کښې سکون او د مد توري دواړه راغلي، دي مد ته ځکه حرفي وايي چه په يوه توري کې دی او مثقل ورته وايي ځکه چه سکون يې په شد لرونکي توري کښې دی ، شد سخت اودروند ادا کيږي .

دافغانستان اسلامي دولت
دښوونې او روزنې وزارت
دتأليف او ترجمې رياست

تجويد

دپنځم ټولګي لپاره

مؤلف: مولوی دوست محمد «فیضی»

د افغانستان اسلامی دولت
د ښوونې او روزنې وزارت
د تالیف او ترجمې ریاست

تجوید

د پنځمې ټولګي لپاره

مؤلف : مولوی دوست محمد "فیضی"

کال: ۱۳۷۴ هـ ش

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د ښوونکی لپاره لارښود:

۱- ښوونکی باید له پاکو جامو سره ټولګي ته ننووځي.

۲- ښوونکی بایدټولګي ته له ننوتومخکې درسي پلان ولري.

۳- درسي پلان باید د درسي ساعت مطابق جوړ شي.

٤- ښوونکی باید په تدریس کې له ډول ډول روشونو څخه کار واخلي.

٥- ښوونکی باید په ټاکلي وخت ټولګي ته داخل شي.

٦- ښوونکی باید خپل ځان د یو همکار په توګه زده کوونکو ته وروپیژني.

۷- ښوونکی باید ټولګي ته د ننوتو په وخت کې سلام واچوي .

۸- ښوونکی باید د نوی درس په پیل کې بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم ووایي.

۹- ښوونکی باید د تدریس لپاره ښه فضا برابره کړي.

۱۰- ښوونکی باید دزده کوونکو حاضري واخلي.

۱۱- ښوونکی باید د زده کوونکو کورنۍ کار وګوري او اصلاح يې کړي.

۱۲- د (کلمو الناس علی قدر عقولهم)مقولې په نظر کې نیولو سره ښوونکی باید د زده کوونکو له سویې سره سم درس ورکړي.

۱۳- ښوونکی باید د تدریس په وخت کې خپل زده کوونکي

ارزیابي کړي.

۱٤- ښوونکی ته لازمه ده چی د زده کوونکو په منځ کی د ښه نیت او ورور ولی فضا برابره کړي.

۱۵- ښوونکی باید خپلو زده کوونکو ته په تدریس کې برخه ورکړي.

۱٦- ښوونکی دی ددرس دموځره کیدوپه خاطرخپل زده کوونکي وپیژنی.

۱۷- ښوونکی دی ددرس په پای کې زده کوونکو ته دپوښتنو کولو حق ورکړي.

۱۸- ښوونکی دې زده کوونکو ته کورنۍ وظیفه ورکړي.

۱۹- ښوونکی دې په تدریس کې له محیطي، ساده او ارزانو مواد و څخه ګټه واخلي.

۲۰- ښوونکی دې په داسی ډول د زده کوونکو پوښتنوته ځواب ووایی چی په راتلونکې کې د دوی د پوښتنو کولو استعداد کمزوری نشي.

۲۱- ښوونکی دې زده کوونکي و پوهوي چی ددی کتاب تمرینونه خپلو کتابچوته نقل او هلته دې حل کړي.

ARIC
B
6.421
SCA
20.02.V.38

نشروونکې اداره:

SWEDISH COMMITTEE FOR AFGHANISTAN
SCA Established in 1980

تمویلوونکي:سویدن
او داروپا ګډ بازار (EC)
دچاپ کال: ۱۳۷۸ هـ.ش
دچاپ شمیر: ۹۶۰۰
چاپونکي: داکبر (ACBAR) چاپخانه.